مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبر بری

۲۰۲۱/۰۳/۲۸

# یادونه

د بهار نسیم په مینه
ښکلوي غرونه رغونه
نازوي په خپل مهین لاس
سره او سپین اوژېرګلونه
*****

په مستۍ کي لاهو شوي
هره خوا مستوورمو نه
سپېره خاوره رنګینه ده
له ګلونو له وښو نه
*****

له مړي خاوري پورته کیږي
د عطرونو بوی په مینه
نه خطا شومه مړه نه ده
ساه ځوک نه کاږي په مړینه
*****

زرغونه واښه نسیم ته
خني اچوي نخیږي
سینګار شوي شګوفو نه
وني رنګ په رنګ ځلیږي
*****

د سپین سري غره په غېږ کي
لاله سرې پیالي نیولي
سیند ځګیږي او شنیږي
مست دی  څه یي ضرور ښنلي
*****

مخامخ د ګل پر څانګه
یو بلبل په شوق چغیږي
دغوتیو تنکی پیغلي
مخ تري اړوي  شرمیږي
*****

ګلان عطر په شوق شیندي
په دي ښه ښکلي فضا کي
هرڅه شور کوي مستی کړي
د دي ښکلي غره په خواکي
*****

زه د  لوړکمره د پاسه
په چورتونو کي ډوب ناست یم
ځوروي مي تېر وختونه
د تریخ ژوند ترخه یادونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ